مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۰/۰۶/۲۸

# بیده ضمیرونه

دلـــــــــته نه اوریدل کیږي د انسان غږ
نه څوک اوري ، د دردمنو د دوران غږ

دیانت دومره کم زوری دی دي ښار کي
چی هر چاته نه رسیږي د ایمــــــان غږ

په کو څـو کي د ضـــــمیر غو غا ده ګډه
ځکه نه راځي غوږو ته ، د وجـــدان غږ

زاهدان هومره د نفس هوی کی ډوب دي
چي د زړه په غو ږو اوري د شیطان غږ

څوک عبرت نه اخلـي تاریخ او زمانی نه
غــاقل غوږو ته، نه رسـی ، د زمــان غږ

پر هارونه یو د بل پســـي زیاتیـــــږي
نه راووځــي دي بیدیا نه د درمــــان غږ

هو ښیـــــاران یي یو د بل پسي زندي کړه
ځکه اورو د هر ګوټ نه ،د نـــادان غږ

مګر نشـــــته دی ،اثر مو په دعــــا کي
چی نه رسي آسمـــــــــان ته ،د افغان غږ

کال ۱۳۷۶پیښاور د هجرت کلونه
د طالبانو د واکمنۍ پر مهال



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ